ليکوال: کلنل سرهنري ميکماهن
ژباړه، څيړنه او مقدمه: دوکتورعبدالخالق رشيد

۲۰۲۲/۱۰/۰۲

# ورځـلیـک

## (روزنامچه)

## (د ۱۹۰۶ کال د دسامبر له ۳۱ څخه د ۱۹۰۷ کال د مارچ تر ۷ پورې)

شپږمه برخه

(CONFIDENTIAL)

DIARY OF COLONEL SIR HENRY McMAHON, K.C.I.E , C.S.I , CHIEF OFFICER ON SPECIAL DUTY WITH THE AMIR OF AFGHANISTAN.FOR THE PERIOD FROM 31st DECEMBER 1906 TO 7TH MARCH 1907

**(محرم)**

**(د هند ملي آرشيف – بهرنی څانګه)**

د افغانستان د تولواکمن لپاره د ځانګړې دلې او ځانګړي پلاوي مشر

کلنل سرهنري میک ماهن

ليکوال: کلنل سرهنري ميکماهن

ژباړه، څيړنه او مقدمه: دوکتورعبدالخالق رشيد

۱۳۹۲


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

## د ۱۹۰۷ کال دجنوري دريمه :

دداسې يوې لويې افغاني ډلې لپاره داګرانه وه چې له لنډی کوتل څخه خپله دسپورو په ګډون پېښورته زموږ تررسيدو دمخه ياني تر۲:۴۵ پورې ورسيږي اويا د پردې وتوانيږي چې خپل پلی کسان تر۱۲ بجوپورې په جمرودکې له اميرسره مخامخ کړي اوخپل پېتي مخکې تردې چې سړک داميراوله هغه سره ددرنوبدرګه والو سپرليو لپاره بندشي ترلاسه کړي . په دې خاطرچې دغه کارپه سمه توګه ترسره شوی وي،بايد چې سپرودسهارپه ۵ بجو، پليو په ۶ بجو اونورو هم په خپل ټاکلي اومناسب وخت باندې ځان تګ ته برابرکړی وای. کله چې ما تيره شپه واوريدل چې اميرخپلوکسانو ته امرکړی دی چې بايدپردغې لارښونې باندې عمل وکړي،ما احساس کړه چې دده دغه امرپه خپل ذات کې هغه څه دي چې اجباري اوتطبيقی بڼه لري ځکه نودوی سهاروختي په خپل ټاکلي وخت په منظم اوځانګړي دسپلين پرداسې جوړښت چې اميربه په پرله پسې توګه څاري تيارسئ شوي وو،
داميراوموږ لپاره داوخت ټاکل شوی وچې موږ به په ۹:۳۰بجوخپل سفرپيلوو، مامخکې له مخکې دا شک له منځه لرې کړچې زه به له اميرسره دسپرلۍ پرمهال دده په بګۍ کې ښځنګ په څنګ کينم که څه هم ده ماته بلنه راکړه چې زه بايد ترده مخکې کينم،کله ما چې دا واريده،بيامې دغه وړانديزورولېږه چې زموږله دود سره سم خبره داسې ده چې زموږ ميلمه پال به له ميلمه سره چې هرچيرې غواړي وګرزي ،څنګ په څنګ کينی،ځکه به زما لپاره هم وړنه وي چې دتاپه مخکې ناست وم. همداوه چې بيا اميرله ځان سره څنګ په څنګ زما دناستې خبره ومنله .
په ۹:۳۰ موږ خپل سفرپيل کړ، زه اواميرڅنګ په څنګ په يوه **واړه لنډ کي** اورګاډي کې کيناستوله موږ سره داميردوه سرداران محمد يوسف او محمد آصف چې دواړه خورا درانه اومنلي سرداران ووهم په مخکنی سيټ کې کيناستل .



اميرخورا خوشاله معلوميده، پرټوله لاره يې ترجمروده پورې په خورا ښه ژبه، ښه ډول اودزړه له کومې خبرې اترې کولې،دې داسې ښکاريده چې ګواکې دسردارانو ډيره لږ پرواهم نه ساتي،په تيره دهغوی چې دده پرسرېې چترۍ نيولې وه ، دوي په دغه ټول سفر کې څه به چې اميرويل يوازې منل اوبس،کومې خبرې چې ده په دغه ترڅ کې کولې هغه ټولې دعمومي شيانو په اړه وې، دلنډي کوتل اوجمرود ترمنځ ډيرلږ ځايونه ووچې هلته يوشميرخلک داميردتيريدودليدو په موخه ولاړوو،هغوی هم داسې څوک نه ووچې ګواکې ده ته يې سلامي اوهرکلی وايه داسې لکه چې پرون يې دلارې په اوږدوکې وشو .
موږ جمرود ته په يوه بجه راورسيدو،اميريوځل بيا دخپل اورګاډی کتنه وکړه اوما هم هغه ټول ده ته وروښود،خپله پوره خوښي اورضايت يې دهغه په اړه وښود اوويې ويل چې دا لومړي ځل وچې ده اورګاډی په خپل ژوند کې وليد .
موږ له دووبجويوڅه وروسته حرکت وکړ،پيښورته يوازې شپږ دقيقې له ټاکلي وخت وروسته ورسيدو،کله چې اميرله خپل سپرلي ګاډي څخه کښته کيده،ما ته يې وويل چې داورګاډي سفردده لپاره په تمامه معنا حيرانونکی و،لويه ستړيا



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

يې داوه چې کله يې پرپليټ فارم باندې له ټولوانګريزې مامورينوسره په لاس روغبړوکړاويوپو ده ته وروپيژندل شول.دی په لنډه توګه له (سر هارولډ ديني )اوجنرال (سر ايی . بارو ) سره دپيژندګلوئ په ترڅ کې وغږيد اوهم يې له ډيروافسرانوسره په پښتو ،فارسي اوانګريزي دملګرتيا ډکې خبرې اترې وکړې. تراوسه پورې يې خپل تشريفاتی ګارد ته چې دده لپاره دريدلی و پاملرنه نه وه ،ما له دغه شيبې څخه ګټه واخيسته، اودی مې له ځان سره د ۴۲هاى لنډ ګارډ پرلور روان کړ،هغوی چې په پليټ فارم باندې ولاړوو. جنرال باروو ته يې مخ ورواړاوه او ورته ويې ويل :

»دملګري دپوځ اوچتې وړتياوې سړی ډيرخوشالوي ،زه نن ډيرخوشاله يم . «

کمپ ته داميرلاره دپوځيانو په منځ کې غزيدلې وه،څه چې په دغه ترڅ کې دډيرې حيرانتياوړووهغه دځايی اوسيدونکو،هغه لوی اوپه هره خوا کې غبرګ تيل ماتيل و،اميرددغوخلکو دتاوده هرکلي منځ ته ور ورسيد ،هغه چې دده د درانه هرکلي په خاطرهلته ترسترګو کيدل .

دده لپاره غوره شوي ميلمستون ته له رسيدوسره سم دګورنرجنرال استازي اونورو له ده سره خدای پامانی وکړ، زه خوشيبې تم شوم،وروسته ما هم خدای پامانی ورسره وکړاوترې ولاړم .

دا له آره په پلان کې وه چې اميربايد د ګورنرجنرال اودعمومي قوماندانې له استازې سره وګوري، دګورنرجنرال په نامه ځوابې ويناهم په پام کې وه خو ما ته معلومه وه چې اميرددغه ټکي پرضد وچې هغه دې ګورنرجنرال ته ځوابي وينا ورغبرګه کړي،همداوه چې ما دګورنرجنرال اومرکزي قوماندان داستازو دکتنې خبره ګردسره له پروګرام څخه وغورځوله ځکه ما تراوسه ددې لپاره وخت نه وموندلې اويوڅه راته له نزاکته لرې ښکاريده چې له ده سره پردغوټکو باندې په ځانګړې توګه خبرې وکړم او پردې يې پوه کړم چې دی بايد په داسې بې لامله څه باندې ټينګارونه کړي .

هغه دګورنرجنرل داستازې هغه بلن ليک ومانه چې دی يې ماښامنې ته وربللی و،ددغه ټکي اهميت په ځانګړې توګه دهغوی لپاره په سمه تو ګه دپاملرنې او پوهيدنې وړدی چې هغوی دژوند دافغاني ډول تګلارې پررمزباندې پوه وي. اميرپه دغه ټکي اودګورنرجنرل داستازې پرمهم دريځ باندې ډيرښه پوهيده، اوداسې ښکاريده چې دده رايه داده چې داوس لپاره داډول خبرې بايد ډيرې مهمې ونه بلل شي .

زما لويه ستونزه اوس پردغو ستونزو برسيره داوه چې ما له اميرسره دبيزنس لپاره د تګ(بازارته تګ ) وعده هم کړې وه په داسې حال کې چې موږ تراوسه هم پردې نه وو توانيدلی چې پرخپلوکاري موضوعاتو باندې کاروکړواوهغه پيغامونه اوسپاربښتني چې داميرداستازو اوزموږ دآتشو ترمنځ وې يوبل ته ووايواويايې وسپارو. ځکه زموږ داستازو لپاره ګرانه وه چې داميرکمپ ته دې لاره را پيداکړي اوياد وکولای شي چې له وړاوټاکلي سړي سره مخامخ شي ، يادې هم په خپله اميرپه عذاب کړي اوله هغه دې په دغه اړه معلومات اواحکام ترلاسه کړي .خو يوه خبره وه اوهغه داچې موږ هڅه کوله چې دغه ستونزه زرحل کړوخوزموږ او د دوی اړوندچارواکي دچارودتنظيم په خاطر يوبل په سمه توګه سره وپيژني .

## د ۱۹۰۷ کال دجنوري ۴ پيښور




د امير د پيښور مراسم

ما سهاروختي له اميرسره وکتل،له هغه سره پردغه مهال دهغه يوڅو مهم سرداران لکه محمد آصف او محمد يوسف خان او دوه ايشک اغاسيان سردار سليمان خان اوسردارعلی احمدخان هم وو. هغه په خوشاله اوطبعي حالت



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

کې و. دهغه دپیل هیله منې خبرې داوې چې که ددغه میلمستون معماري دده په واک کې وای،نوده به داسې سمبال کړې وای لکه چې هغه یې لایق اوو‌ړو. (ما فکرکاوه چې زه دیوې لړزونکې اوتوپانې کتنې په درشل کې یم، لکه ښنګه چې آوازې بیا ماته راورسیدې داسې ښکاریده چې امیرپه دغه استوګنځی کې نه وخوشاله) ما پوښتنه وکړه چې ولې ؟
څه ته چې ده ګوته ونیوله هغه داوه چې ده داتوله ماڼۍ په دې نیمګړې بلله اوګوت نیونه یې هم ورته کوله چې په هغې کې دتشنابونوداوبو دلیږد نلونونه ووغزیدلي، همداسې دزینو شډل والی اونورې نورې نیمګړتیاوې هم وې . ماداورسره ومنله اودامې ورته څرګنده کړه چې موږ ولې دانیمګړتیاوې لرو. دټولونوروځایونوله کتنو لیدونو وروسته آره خبره داوه چې میلمستون یوازنې ځای و چې په ټول پیښورکې دده دپاملرنې وړشو،ده په بیړه دا ډاډهم راکړچې دده موخه دانه وه چې ګواکې چیرې چې ښه ماڼۍ وه هغه باید دده داستوګنې لپاره غوره کړه شوې وای اودی دې په کې اوسیدلی وای. ده یوازې غوښتل چې دمعماراوجوړونکی دکارپراصل وآرباندې پوه شی،هغه چې دغه ماڼې یې جوړه کړې ده. هغه خپله سره له دې چې دودانیوانجنیرنه وخو ماته یې ډیرې داسې نښې راکړې چې دهغوله مخې باید دغه ماڼې سمه شي. ما ورته وویل چې زه خوشاله شوم چې ستاسې وړاندیزونه ترلاسه کوم اوکه شونې وه، نوترهغو چې بیرته پیښورته راستنږي هغه به هم سمبال شي .
موږ بیا یوبل بحث رامنځ ته کړ،ماغوښتل چې ددغه بحث په ترڅ کې پریوشمیر ټکو باندې خبرې وکړواوپه دغه اړه دده په نظراونیت باندې هم پوه شم چې کوم سرداران باید نن شپه دګورنرجنرال دمرستیال په میلمستیا کې له ده سره ملتیا وکړي، ده ځواب راکړچې دی باید ترهرڅه دمخه په څلوروشیانو باندې پوه شي. څوک دغه میلمستیا جوړوي؟ په دغه کې به یوازې انګریزي مامورین برخه اخلي ، آیاهلته به داسې خوراک هم وي چې هغه به شکمن وي ؟ آیاهلته به داسې حالت هم وي چې دده او دده دسردارانوپه وړاندې به هم شراب اینودل کیږي ؟ دده سرداران به وکولای شي چې په سمه توګه پرمیزباندې ډوډۍ ته کیني ؟ ما ځواب ورکړ چې په میلمستیا کې به برخه وال یوازې انګریزي مامورین وي ،داسې څه به دخوراک لپاره هلته نه وي چې هغه به دمسلمانانوله طبعې سره مخالف وي،هلته به نه شراب اونه هم نورداسې څښاک وي چې هغه به پرده اویادده پرسردارانو باندې په زورتپل کیږي. دده سرداران به ټول ددوی دمقامونو اودرجو سره سم درناوی کیږي .
ما له ده څخه پوښتنه وکړه چې دی به په دغه کارسره وځوریږي چې که څوک دده ترڅنګ په شراب څښلوسروي؟ ده وویل چې دې به دهغو په کارکې مداخله ونه کړي. درجې اودریځونه باید معلوم وي، ده ما ته داراپه ګوته کړه چې دی به له ځان سره یوازې څلورتنه سردران هلته بیایي چې هغه به آصف خان ، یوسف خان او دوه تنه ایشک ِآغاسیان وي .
زه پردغوټکو باندې دزړه له کومې خوشاله شوم، چې زماهغه ټولې پوښتنې چې دامیردبیګانې میلمستیا په اړه وې په خوراساده توګه ځواب شوې.که ما داورته ویلي وای چې هرډول انګریزي مامورین به هلته برخه اخلی کیدای شوه چې امیرهم له ځان سره دانډول دبرابرتیا پرلامل هرڅوک رادمخه کړی وای او هلته به یوه ټیله ټمبه جوړه وه ،له ده سره دده دپلاردمهال دیوې بلنې یادښت و،په هغې کې چې زیات شمیرآراستوګنوهندی مشرانوهم ګډون کړی و خواوس یې په دغه حال کې داپه پام کې وه چې دده اوانګریزانو ترمنځ په ژوند اوکړو وړو کې یولوی واټن شته دی .
ما داپوښتنه هم ترې وکړه چې دغه پریکړه به د ویسرای اونوروپه میلمستیاووکې هم عملي او په پام کې نیول کیږي؟ خو ده په دغه اړه ځواب راکړچې دې هیله نه لرې اونه غواړي په دغه اړه تروخت دمخه څه ووایي .
موږ همدارنګه په ډیرونوروومسایلوباندې هم خبرې وشوې، په پای کې مادهغه لیک دځواب پوښتنه هم ترې وکړه چې ما ده ته له دې امله استولی وچې دی هیله من دی اوغواړې دخپل سفرپه ترڅ کې زموږدهغوځواکونوننداره هم دورځې په ترڅ کې وکړي،هغه چې زموږدسفردلارې پرسردې لکه په نوشهره اوراولپنډې کې، څو هلته دتیاریوتابیا اوتکل وشي.ده ما ته په دغه اړه دومره وویل چې دغه پوښتنه باید ده ته په لیکلی ډول ورکړه شي. په دغه اړه منل اونه منل یوازې په ده پورې تړلې نه وو. دی په دغه اړه ډیردقیق و، زما لپاره هم داخبره ګرانه وه ، ماهم په دغه اړه باید له پوځې چارواکو اجازه اخستې وای اوپه عین حال کې مې باید داورګاډی له چارواکو سره هم خبره پخه کړې وای. ځکه چې داپه دغه اړه دیوه څرګند لامل لپاره اړین آرونه اوشرطونه وو .
امیرپوښتنه وکړه چې دی ښنګه کولای شي دلارې په اوږدو کې دپوځې ځواکونو ننداره وکړي،ددغې کتنې لپاره به دااړینه وي چې دی باید له اورګاډي څخه راکوزشي؟ ما ورته وویل چې دی باید دپوځیانو درناوي او مراسم په پام کې ونیسي.ماداهم ورته په ګوته کړه چې زموږخپل ټولواکمن او واکمنه کورنې په دغه اړه تل ګرده سره ځانګړي اوبیل وو.هغوی همیشه ډیرڅه په خپل خپل ډول ترسره کړي دي. برسیره پردې مې داهم ورته وویل چې زموږ پاچا اودویلز شهزاده دخپل هغه ګارد ټوله اوهراړخیزه معاینه کوي چې دده لپاره درول شوي وي. امیرهم باید دغه څه ترسره کړي .
په رښتیا هم چې داکارامیرپخوا یانی پرون په پیښورکې داورګاډي پرتم ځای دګارد دیوې ډلې په وړاندې په ښه توګه ترسره کړ،داسې چې هغه دپوځې افسرانو له خوا په هراړخیزه توګه وستایل شو .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

بیا هغه له ماپوښتنه وکړه چې دی بایددځواکونو دمعاینې اوننداري په وخت کې څه شی واغوندي؟ څنګه کولای شي چې درسم ګذشت پرمهال دی رسمی دریشی واغوندي ،ما ورته وویل چې رسمي دریشۍ اغوستلوته اړتیا نشته،کولاشې هغه څه چې پردغه مهال درسره وي وایې غوندي، ځودسلامۍ اودرناوی پرمهال هغه ستادپیژندګلوی څرګندونه وکړای شي. هغه وویل چې هغه په تمامه مانا پوه شواو زما لیک ته به هم اوس یوځل بیا ځواب راکړي . بیامې ده ته داګرې په کمپ کې دده دتم کیدو چاپ شوی پلان ورکړاو ورته ومې ویل چې دمهربانۍ له مخې ما ته ووایۍ چې دځومره خیمو لپاره اړتیاده څو پرهغو باندې نومونه ترهغوچې موږ هلته رسیږو ولیکل شي اوتیارې وي. اوداهغه څه وو چې دپلان جزیات بلل کیدای شول .

امیرله هغه وروسته چې د یودرجن پوښتنو په باره کې،هغه چې په خپله وړه کتابچه کې یې لیکلې وې له مامعلومات ترلاسه کړل وویل چې دده پوښتنې پای ته ورسیدې،او ویې غوښتل چې اوس له ماسره شخصي خبرې وکړي. کوټه زر ترزره له هرڅه خالي شوه، ټول ووتل اوفضا ددې لپاره تیاره شوه چې له ماسره خبرې پیل کړي، خبرې په داسې حال کې چې امیرزما پراوږه لاس نیولی واوپه کوټه کې کښته او پورته تلوراتلو پیل شوې اوویې ویل :« راځه چې اوس نو په آرامی سره وغږیږو، زه غواړم چې ستا په نظر باندې دهغو ډیرو وړو وړو شیانو په باره کې پوه شم چې زه دهغوپه باره کې ګردسره ناګاره یم» هغه وروسته خپلوپوښتنوته دبیلابیلو وړو څیزونو په باره کې په مهذبه توګه دوام ورکړ:څه فکرکوی چې زه څنګه اوپه څه ډول کولای شم خپل لاس چا ته وراوږد او ورکړم ؟ کیدای شي دغه لاس ورکول یې له میرمنو اویا نوروسره مقصد و.ده هڅه کوله چې پرکینې لاس باندې یې لاس ماغو وي ، په دې چې دی باید خپلې داغې اوعیبې ګوتې پټې کړي. آیادابه ادب وي چې یوڅوک له چا سره لاس ورکوي هغه دې بیا پرښې لاس هم لاس ماغو ولری ؟ ما ده ته په دغه باره کې ټول هغه معلومات چې اړین وو ورکړل اودامې هم غنیمت وبلله چې ده ته باید یوڅو نورې عمومی او وړې اړینې اداري خبرې دوړو وړو څیزونو په اړه هم وکړم .له مایې مننه وکړه او زما لاس یې په خپل لاس کې دزړه له کومې کیکیښ. ما ورته وویل چې زه هروخت ددې لپاره تیاریم چې له تا سره په داسې اړینولارښونوکې مرسته وکړم ان که چیرې ما ته اجازه راکړې زه به دهرڅه



**امیر په پیښور کې ١٩٠٧**

په باره کې په خورا مهذبه توګه ټول څه درته ووایم. ماورته وویل چې زه به ده ته ډیرې داسې مشورې هم ورکړم چې هغه به دده دځلکوپه وړاندې نه ترسره کیږي.هغه له ما په دغه خبره توده مننه وکړه اوویې ویل چې دی همیشه ددې لپاره تیاردی چې مشورې واوري او ویې مني .زموږ خبرې زرځکه پای ته ورسیدې چې امیربیړه درلوده چې باید ځان جامع جومات ته دجمعې دلمانځه لپاره ورسوي.ما هم ورته وویل چې دې باید لمانځه ته ولاړشي ځکه چې هلته


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاریۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

به دلوي جامع جومات ملا دده په نامه خطبه وايی اودی به داسلام دستر پاچاپه توګه يادوي. خطبه لکه څنګه چې زه پوهيږم يوازې دهيواد دپاچاپه نامه سره ويله کيږي ،خو زه په دې زيات باوری نه يم چې دغه خبرې چې ماته په دغه اړه ويل شوي وې ، هغه به ترکومې اندازې رښتيا وي .

داميرپوځيان دهغوکوڅوپه اوږدو اولنډوکي ولاړوو هغه چې ترجامع جومات پورې غزيدلي وې،دغه بهيرچې زموږ له نظره هم نامنظم واوهم له انتظاره لرې، زه داهم نه شم ويلای چې که موږ پوهيدای چې داسې بې نظمي به وي، موږ به اجازه ورکړې وای که نه، په دغه اړه زه بياهم څه نه شم ويلای، زه فکرکوم چې له دې ټولې بې پروايي سره سره چې ترسره شوې وه دځوريدووړڅه نه وو رامنځ ته شوي .

اميرهغه بلن ليک هم ومانه هغه چې نن ماسپښين (له پولو سره د پيژندګلوۍ پر لامل) په غيررسمی توګه دپولوليدلوپه خاطردسرادموند بارو(Sir Edmund Barro) له خوا ورکړشوی و.

په دری نيمو بجو زه ورغلم چې امير راواخلم، دپولودميدان پرلورموحرکت وکړ، له رسيدو سره سم جنرال هرکلی ورته ووايه اوهغه يې دناستې ځای ته لارښونه اوبدرګه کړ،هلته يې له ميرمنو سره چې ده ته وروپيژندل شوې په لاسونوتود روغبړوکړ، ښکاريده چې په دغه ترڅ کې يې ځان ډيرخوشاله احساساوه. په خورا ګرمۍ اوليوالتيا سره يې دپولولوبې ننداره وکړه،داسې چې دهغې په ليدويې له هغې څخه ځانګړی خوند اخيست په تيره چې های ليندړزله ۴۳او ۹۳ سره راڅرګندشول .

هغه د نورو عادي افغانانو په انډول لږ( دود پالی ) و، داسې چې هغوي په هرڅه کې يوډول آزاد ګام اوچتوي، خوده بيا ځانګړي ډول احساسات ښودل،دښځو په وړاندې دهغه چال چلند خوراموډبانه و، ماواوريدل مخکې تردې چې دی خپل سګريت ولګوي له هغې ميرمنې يې چې له ده سره نژدې ناسته وه پوښتنه وکړه چې دده دسګريټو دود خو به دوی نه ځوروي .هغه ماشومانوته په مهربانۍ سره کتل او له مهربانۍ ډک چلند يې ورسره کاوه،کله به يې چې په کمپ کې کوم ماشوم وليد زربه يې ځان ورسره مل کړاو له هغه به يې بيلابيلې پوښتنې په ډيرې مينې اومهربانۍ سره کولې اوهغه ته به يې يوڅه خواږه ورکړل .

ما هغه لکه نورو افغانانو غونډې په مذهبي کړنو ولاړ څوک وموند، په تيره دلمانځه په باره کې ،هغه ان دلوبواوسرګرمۍ بهيردمازديګر دلمانځه په خاطر پريښود، هلته سره له دې چې دده لپاره ديوه وړځای موندل هم ګران وو، خو ده بياهم هڅه وکړه چې دعصريې دميزپه شاوخواکې دخپل لمانځه لپاره ځای ومومي ،هغه له ماهيله وکړه چې که شونې وي، دده لپاره يوڅه غم خوري وکړم ، اويوکوچنی ځای چې دده دلمانځه لپاره مناسب وي اودلمانځه لپاره جای نماز په کې واچول شي پيداکړم .

هغه ترلمرلويدو پورې هلته و، بيا زه ورسره بدرګه شوم اوبيرته دده داستوګنځي پرلور راوخوځيدو .

په ۸- ۱۵ (اته اوپنځلس ) زه اودی دهغې ماښامني پرلوروخوځيدو چې د سر هارولډ دينی له خوا هلته چې د (۶۰) په شاوخوا کې نورپوځی اوملکي مامورين هم راغونډشوي وو، جوړه شوې وه . په کوم ميز چې امير کيناست هغه دسر هارولډدينی اوزما ترمنځ و، په خورا ښوآسانتياوو سره سمبال شوی و، داسې چې اميرهرشيبه رانژدې کيده اوله ما به يې دهغوڅيزونواوآسانتياوود کارولو پوښتنه کوله هغه دماښامنۍ په سر په خورا نورماله اوډاډه توګه خبرې کولې، ښه راشه درشه يې په طبعي توګه خپله ځانګړنه کړې وه.ماته يې هغه مينو چې دده مخې ته ايښودل شوې وه په خورا ډاډه زړه په فارسی کې وژباړله، مانادچې ده په هرڅه کې په خورا آرام خاطرسره برخه اخيسته، سرهارولډدينی دپاچا د سرسلامتې په خاطرشعارورکړ،خو پاچا همدغه سلامتی له هغه سره يوځای په ولاړې ( پراوبو ) بدرګه کړه اوپه سرېې واړولې .

سرهارولډدينی لنډې خبرې وکړې اوپه هغوکې يې پېښورته دپاچا لپاره ښه راغلاست ووايه اوهيله يې څرګنده کړه چې دهند سفربه يې يوخوشاله اوله خاطروډک سفروي .بيا اميرخپلې خبرې په فارسی کې په لاندې ډول سره پيل کړې:« دريغه چې زه نه شم کولای ستاسې په وړاندې خپل تود ځواب په انګريزۍ کې ووايم ،په هرډول زه تريوحده په دغه ژبه پوهيږم ، زه په دې خوشاله يم چې ځان ستاسې ملګروپه منځ کې ګورم اوهيله من يم چې تردې وروسته به هم له ملګرو سره ګورم ، له ويسرای سره ، او په هندکې به نورهم له خوشاليوسره مخامخ شم « .

داخبرې ما په انګريزۍ کې وژباړلې، خو له دې سره سره هم اميرزياته کړه :

»زه نه شم کولای هغه څه اوهغه خوښي چې زما په زړه کې ده،هغه په خوله څرګنده کړم «

دهای لنډ رجمنټ سندريزګروپ له ماښامنۍ وروسته پرميزباندې راټول شول، زه فکرکوم چې دغې ننداري اميرپه هراړخيزه توګه ترخپل اغيزلاندې راووست .

په خوړنځي کې اميرله غونډې والو سره يوځای شو،له هغوی سره يې چې ده ته ورپيژندل شوي وو په ډيره آزاده توګه خبرې اترې پيل کړې.يوازنې سياسي ټکې چې له ده څخه په دغوخبروکې راووت هغه داوچې ده ديوه دريم ځواک په اړه اشاره کوله چې هغه زموږداچولوپه برخه کې هلې ځلې کوي ، ده وويل چې په دغه اړه زموږ لپاره وړده چې بايد سره نژدې شواوسره ملګري .

ماښام مهال چې ما اوسرهارولډدينی له هغه سره خبرې کولې ما وويل :« دلته تاسې په خپل مخ کې دوه وګړي وينې ( دشمالي صوبې اوبلوچستان لوی کمشنران ) هغوی چې د ۱۳۰۰مايله افغان پولې ساتنه کوي تاسوموږته په کومه



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

سترګه ګورئ ، هغه به څه وي چي زموږ دواړوپه اره ستا په زړه کي شک پیداکړي ؟ هغه ځواب راکړ، چي هیڅ ، زه پرتاسي دواړو باورلرم ،خوآیاداشوني ده چي په دغودوو تنوباندي دي یوپه بو دباوراوتابعیت حکم وکړل شي؟ نه ، زه یوازي کولای شم نیم باوروکړم. ایا داشوني ده چي دوه کسان دي پردوی باندي باوروکړای شي ؟ نه کړده سره ،

ده وویل هغوی هغه خلک دي چي له موږ دواړو سره غلطه لوبه کوي. دوی دخپلوپولو معامله داسي پوښي لکه چي یوڅه ترډسمال لاندي کوي، ځکه نو نه تاسي اونه هم زه کولای شم پرهغوباندي پوه شم چي رښتیا په دغه ترڅ کي څه دي. دوی تاسي ته وایي چي امیردغه او هغه بدڅه ترسره کوي ،همداسي ماته وایي چي تاسي بیا دغه او هغه ناروا اوظلم کوئ. داهغه څوک دي چي موږدواړه یو پربل شکمن کوي. ما لوړه کړي اودرواغ نه وایم له ۱۵کلونوراهیسي مادغه ټکی ستاسي په وړاندي ثابت کړی دی،تاسي ته باید زما په اړه دشک څه په زړه کي نه وي.زه ستاسي ملګری یم او همداسي به پاتي شم .
هغه یوښکلي اوخوشاله ماښام و، امیریوځل بیا دتولو په وړاندي خپل ډیربنه احساسات څرګندکړل. هغه تر۱۲ بجوپوري هلته و، وروسته له هغه ځایه وخوځید. دبیرته تګ په حال کي یي ماته وویل چي ده په رښتیا هم دزړه له کومي له دغه ناستي څخه خوند واخیست،هغه څرګنده کړه دغه څه چي ده ولیدل او دده په وړاندي ترسره شول داټول دده لپاره نوي اوخوشالونکي څه وو .دهغو څرګندونوله مخي چي ما دده اودده د دووسردارانوله خوا واوریدي ماته داپه ډاګه شوه،چي امیراوس موږکردسره دهغه څه برعکس وموندلو کوم چي ده زموږ په اړه فکرکاوه اویایي انتظاردرلود .
دده دوه سرداران،هغه چي نن له ده سره وو،هغوی هم خورابنه چلني،مینه ناک ،مهذب اوزرملګري کیدونکي څوک وو .
دمسلمانانود تنګ نظریواوبنسټپالوایدیوله مخي ،ورځ له عاموخلکو سره په جامع جومات اودجمعي په نمانځه کي تیرول ،بیا دپولودلوبي ننداره، له هغه وروسته له انګریزي ماموړینو سره دماښامني په لویه غونډه کي ګډون، په خپل ذات کي یولوی کاردی چي په سیاسي لحاظ په هرډول اوهراړخیزه توګه دپاملرني وړمهارت ته اړتیالري .

## د ۱۹۰۷ کال دجنوري پنځمه - پېښور :

له امیرسره زما کتنه په لسو بجووشوه ، هغه مي خورا خوشاله وموند. ویل یي چي ده بیګاه شپه د سرهرولډ دیني په میلمستیاسره خوراخوشاله تیره کړه .ده داهم په خوښئ سره یاده کړه چي دی ولي ترناوخته پوري هلته پاتي شو، خبره داسي وه چي ده خپل ساعت دماښامني په ترڅ کي دجنرال باروز له ساعت سره برابرکړی و، دلاس خوځولو په ترڅ کي هلته دیوه ساعت توپیررامنځ ته شو، هغه هیله ترې وکړه چي باید تر۱۱ بجوپوري له دوی سره پاتي شي، په داسي حال کي چي هغه د۱۱ بجوپرځای تردوولس بجوپوري هلته پاتي شو .
هغه بیا په نوښهراو راولپنډۍ کي دپوځونو دکتني پوښتنه رامنځ ته کړه :
- آیادغه کتنه به له اورګادي څخه وي ؟
-هو، (*)
-هغه به دپوځونو ننداره له خپل سپرلي ځایه کوي ؟
-هو
-پرته له دي چي له سپرلی راکښته شي د هغو کتنه شوني ده ؟
-نه ،
- ولي ؟
-ځکه چي دایومهذب حرکت نه دی .
- دده دسلامی ګارډ ته اړتیا شته ؟
-نه ، ځکه چي شته پوځونه دلته دسلامی لپاره بس وو .
- ده باید یونیفورم اغوستی وای ؟
-هو،دیونیفورم یوډول ترڅوده ته دررناوي اومنني څرګندونه په سمه توګه ترسره شي . خوده وویل : چي دی یوازي یوشی له ځانه سره لري چي هغه توره ده ، چي اچولی یي شي ؟ ماځواب ورکړ چي داخوترټولو ښه اوپه زړه پوري شی دی .
هو، هغه وغوښتل چي دپوځونوننداره وکړي. ماورته وویل چي سمه ده زه به داکارسمبال کړم .
په یوځووړو موضوعاتوموبوڅه نوري خبري هم وکړي بیاما دتګ اجازه تري وغوښته، زمادروانیدوپرمهال یي ماته یوطلایی قلم پوښ راکړخودا هغه ماشوم ته ورکړم چي پرون یي دپولو په میدان کي خبري کولي، کوچنی ویلفرید وایڼج د پنجاب د۵۹ پلی پوځ میجرویڼج زوی و.اودابه دامیرله خواده ته یوه ډالۍ وي چي دلوستلوپه وخت کي به امیر پري یادوي .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

په ۲ او ۴۵بجو زه بیا له امیرسره یوځای شوم او هغه مې دسپرلی لپاره راویوست. له دود سره سم دهغه دواړه سرداران محمدآصف اویوسف خان دموټرپه مخنې سیټ کې کیناستل اودچترۍ څارنه اوکنترول ددوی په واک کې و.امیرله هغو ټولو شیانوسره چې ده لیدل دزړه له کومې مینه څرګندوله،ان چې دونواونوروشیانودنومونوپوښتنه یې هم کوله. له سرکولررودڅخه دتیریدنګ پرمهال یې چې کله ودانۍ ولیدې ، ویې ویل چې دابه بارکونه وي .کله چې ماورته وویل هو، ده وویل چې که شونې وي زه غواړم چې یویې وګورم. ماسپرلۍ راتم کړه،اویوسپورمې واستاوه چې سرجنت – میجرراپیداکړي .
د ( ۴۲ های لنډر) غونډ سرپرست په بارکونوکې وهغه راووت او ویې ویل چې دابه دده لپاره دخوشالۍ خبره وي چې چارچاپیرټول ځایونه موږته راوښیی. امیرله نوروټولو بدرګه والواوډلې څخه هیله وکړه چې همدلته په خپلوځایوباندې پاتې شي، موږ په همدغه وخت کې اتونوروکسانو دشاله خوا بدرګه کولو. موږ ور روان شو، لومړی موګارد کوارټروکتل، له هغه وروسته امیرهیله من و چې حمام اوپخلنځي وګوري ، په ډیره لیواتیایې دپخلنځي،لوښو، غوښې اونوروټولو څیزونو کتنه وکړه، بیامودخونورو بارکونو په لورحرکت وکړ،څه کوټې موهلته هم په څیرکۍ سره ولیدې،امیردلیدو په ترڅ کې دیوشمیرکوټو ډول ډول کټونو اوبستروته ګوتنوی هم وکړ، له هغو وروسته یې دکوروالاوو پوځیانو له کورونو څخه کتنه وکړه څووګوري چې کوروالا سرتیري په څه ډول کورونوکې اوسیږي اوژوند یې څه ډول دي. موږته په دغه ترڅ کې یوشمیرښکلی کورونه راوښودل شول،امیردهغود لیدو له امله له پوځي اودهغه له میرمنې څخه مننه وکړه.له دغې کتنې وروسته زموږ پاملرنه هغه ډګروروا ړوله هلته چې سرتیري دفوتبال په لوبه باندې بوخت ول. امیرد زړه له کومې او په خورا لوالتیا ترهغو چې پام یې شودلمانځه وخت دی دهغوټولوځآیو ښه ننداره وکړه، له مایې پوښتنه وکړه چې غواړي دمیدان په څنګ کې لمونځ وکړي .
وروسته یې هڅه وکړه چې د خپلوپاتې کسانواوځایې خلکو له بیروبارسره یوځای شي، هغوی چې دمیدان په شاوخواکې سره راټول شوي وو. دایوجالبه صحنه وه چې یوې خواته ده لمونځ کاوه او بله خوا دبریتانوي پوځیانو شورماشوردلوبوله ډګره را پورته و، یوځل خو توپ دلمونځ کوونکو پرخوا داسې راغی چې دټولو پام پرهغه لورشو،له امیرسره یوځای دلمونځ کونکو پام دهغه چا پرلورچې ددغه کارعامل شوی و،لمونځ پای ته ورسید،خوامیر خپله پاملرنه دهغه چا پرلورچې ستونزه یې رامنځ ته کړې وه متوجه کړې وه اوده دغه بهیرپه ټولوجزیاتوسره دغه بهیرپه ټولو جزیاتو سره څاره پریوه پوځي یې غبرګ وکړ،چې هغه ته له زیاتې سزا ډډه وکړي ده وویل ، دی دااحساسوي چې کوم څه دغه سړي ترسره کړي،دایوتیرۍ دی خوچې نوریې باید ونه کړي .

---

(*)باید ووایم چې جنرال داکارکړی و، رسم ګذشت یې داسې تنظیم کړی وچې امیریې باید په روښانه توګه ننداره وکړای شي . خوما فکرنه کاوه چې دابه یوه ښه بیلګه وي . (میکماهن)

له هغه وروسته مازدیګرمهال موږبیرته دخپل استوګنځي پرلورراوګرزیدو .
نن ما له غرمې وروسته دشیانودلیږیدونې دوو ګاډواګرې ته دامیردډلې پرلیږید باندې پیل وکړ،په دغه کاروان کې زیات افغانان اودهغوی پوځیان واستول شول.ددوی نظم اوتیاری زموږ لپاره دپاملرنې وړاو په زړه پورې !

## د ۱۹۰۷ کال دجنوري ۶ ـ پیښنور :

ما د سهار په ۹ او ۴۵ دقیقو له امیرسره وکتل، له هغه سره مې نژدې دری ساعت اګرې ته دده دسفراوهلته دټولو مراسمواوپروګرامو په برخه کې پوره خبرې وکړې. ده له ماپوښتنه وکړه چې که دی (۴۲ های لنډر ) ته دمننې یوه یادګاري لوحه دهغوی دبارکونو دلیدوله امله ورکړي، دابه دده له خوا یومهذب چلند وي که نه ؟ ماورته وویل چې غونډ به دغه عمل په لوړه کچه وستایي. په پای کې هغه وویل چې دی به یوڅو مناسبې کرښې دیوه کپ په بڼه برابرې کړي اوبیابه یې دوی ته ورواستوي .
زموږډیرې ښې خبرې وشوې،یوه په هغوکې داوه چې امیراګرې ته له رسیدوسره سم خپل سپاره له ځان سره نه شي بیولی .هغه غوښتل چې خپل باډی ګارد او یاهم سپاره د ویسرای دکتنې پرمهال ویسرای دهغه ترکمپه بدرګه کړي.
له هغه وروسته زموږ دهندې مراسمودبرخې وارشو، چې ما بایدهغه ټول په دقیقه توګه چې څنګه ترسره کیږي ده ته تشریح کړي وای اویادا چې په څه ډول باید دهغومهموکسانودریځ اوموقف چې دلته ګډون کوي په پام کې ونیول شي. امیرباید له ویسرای اومشرانوچاروکوسره چیرې کیني ؟ ولې هغه بایددویسرای له خواکیننول شي؟ داټولې خبرې ورته وویل شوې، ماپه خورا احتیاط سره ددغه ځانګړي دود هره خوااواصول ده ته ورپه ګوته کړل اودامې هم ورته وویل چې ان ویسرای په څه ډول زموږله درباري غړو سره په دغو مراسمو کې چال چلندکوي . خونه ، امیردیوه میلمه په توګه راغلی هغه ته باید دمیلمانه په توګه درناوی وکړل شي. هغه باید دویسرای له خواپر ټاکلې ځای په درنښت سره کینول شي نه داچې هغه نوروته حواله کړشي. ما ورته وویل چې داڅومره ګرانه خبره ده باید هومره جدې په پام کې ونیول شي، دهغه لپاره ددې اړتیانشته چې دمراسموعامې برخې ته ورشي، هغه وویل، چې دی به



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ترهغه دمخه چې دویسرای له خوا په هرکلی سره کینول کیږی ان دټاکلي ځای (دیوان خاص) خواته هم لږ ترلږه ولاړنه شي .

په دغه برخه کې دده له خوا هم هیڅ ټینګاراوفشارنه و. له عواموځخه دده بندیزاویالرې ساتل په هیڅ ډول دځوروني او ناخوښۍ وړځه نه وو، خوسپینه خبره داوه چې داپه خپله دده دریځ ته نه درناوی و، په عامې برخې کې کیناستل باید دده لپاره هم دپوښتنې وړ خبره وي چې باید ګوته ورته ونیول شي.هغه ته باید داواک ورکړشي چې له ویسرای سره له تالاره دوتلو په ترخ کې وګوري.(سره له دې چې کیدای شي دلته یوځه ځنډرامنځ ته شي،خو دی باید ویسرای ته انتظاروباسي،په تیره پرهغه مهال چې عالیجناب غواړي ووځی ). ځوشیبې مخکې هندي مشرانو اونورو ته اجازه ورکول کیږي چې هغه وځاري. دی نه شي کولای چې دهندي مشرانو په ټیل ماټیل کې له هغوی سره ګډشي.هغه پرماغږوکړچې دی پردې ټولو په سمه توګه اوتمامه مانا پوه شو. دغه ټولې خبرې په خوراساده ډول ما له ده سره شریکې کړې.خوداسې ښکاریده چې دا ټول ځه ده ته زیات ګران نه وو ځکه خو ماته هم ښکاریده چې زه پردې ونه توانیدم چې دی دیوه انچ په اندازه له خپل دریځه راپه دیخواکړم . ماهم لږترلږ داوویل چې زه باید دده دنظریاتواستازی شم خو ترهغه چې په یوه پایله باندې ګام ږدو باید چې انتظارورته وباسو.اوهغه له ماوغوښتل چې هغه باید په شک کې وانه چوم .

په هرډول ، دپوره مراسمو په هیله په هغه شان چې دی یې غواړي اودده هیله ده. په غیررسمي مراسموکې دی کولای شي په آزاده توګه له ټیل ماټیل سره یوځای شي اوکولای شی هغه ځه چې زړه یې غواړي پرته له هرډول مراسمو ترسره کړي. خو درسمی مراسموپه ترخ کې کله چې دی په هغوکې ګډون کوي هلته باید دی پرهغه ځه باندې عمل وکړي، هغه چې یادونه یې دده له دریځ اوپوزیشن سره سمه وشوه. لکه په کلکته کې یې چې دبیلګې په توګه اوخپله غوښتنه له ویسرای سره ځوځلې دشخصي کتنې هیله وکړه،هلته هیڅ ډول تشریفات هم په پام کې نه وو، خو دلته په اګره کې رسمي مراسمودده دپوره پوزشن اودریځ غوښتنه کوله. موږ له دې وروسته په وړو وړو شیانو باندې خبرې وکړې اوهغه مو په ښه شان سره حل کړې .

په دریوبجوزه بیا له امیرسره یوځای شوم ، خودی له هغه مهاله چې زه ترې وتلې وم بوخت و، تراوسه پورې یې دبیلابیلو ډلو استازي منل اوله هغوسره یې کتل. ترکومه چې زه خبرشوم زیاتره استازي له ده ځخه په خواشینۍ سره بیرته راوتل اوترې خپه وو، دپیښور دانجمن حمایت اسلام استازو هغوی چې ده ته یې خپله ویناوړمرام ووایه ، ده هغوی ته خورا سخت ځواب ورکړی و، چې جزیات به یې هیله من یم وروسته وړاندی کړم .امیرپه لوړه برنده کې ناست و اوخپلې خبرې یې خپلوکتنونکو ته له هم هغې لوړې برندې کولې. له لاهورځخه دمسلمانانو تش په نامه راغلي پلاوي ته یې دکتنې پرمهال په ډاګه وویل چې دوی په خپله په قانوني اوقضایی وړتیا برابرنه دي ځکه نودی له دوی سره هیڅ هم نه شي کولای. ده دپیښوردپلاوي هغه وینا په کلکه توګه رد کړه چې ګواکې ده دخپل لوی جومات دنه درناوې په اړه کړې وه ، ده دهغه جومات دبیا جوړښت او سمون لپاره (۲۰۰۰) روپۍ ورکړې ،اوهم یې وویل چې دی به دهمدغه موخې په خاطر شل زره روپۍ نورې هم په پیښورکې دخپل استازي په واسطه ورکړي .

اړینه نه ده چې ووایو خو کوم کسان چې دده کتوته راتلل ددوی هدف داو چې دځانواویانورولپاره له ده ځخه ځه پیسې ترلاسه کړي ځکه خو ده هم ترزیاتې اندازې دغه کسان له ځانه زړه ماتي اولږراضي رخصتول .

داسې ښکاریده چې دادده لپاره ډیرګرانه وه چې موږده ته دااجازه ورکړې وه چې له هرچا سره چې دې یې زموږ په هیوادکې غواړي وګوري. په داسې حال کې چې کله کټ مټ پلاوی افغانستان ته ځي، دهغه لپاره داآسانتیاخورا لږده چې دهیوادله عامه خلکو سره دې دکتنې لاره چاره ورته برابره شي. په دغه اړه زه نورنه ځه نه ویلای شم اونه فکرکولای شم پرته له دې چې دغه توپیرله هغه پرمختګ سره تړاو لري کوم چې زموږ په برخه شوی دی .

ما بیا هغه دسپرلۍ او چکرپرلامل دپیښوربښار ته راواخست ښارګټولیکو په سراخیستی واودده هرکلي یې په تودواحساساتو ته سره وکړ.خوله یوې شیبې وروسته دی په هغه شان لکه چې له اوله و نه ښکاریده ،پرمایې غږوکړچې دی غواړي له ښاره په خورا لنډه لاره ځان وباسي. موږ یوازې یوځل نورهم پرکانټومنت راتاوشو ، له هغه وروسته مې هغه مازدیګربیرته خپل استوګنځی ته راورساوه .

دبیرته راتګ پرمهال ماهیله ترې وکړه چې زه غواړم هغه یوازې وګورم. اویوځل بیا له ده سره په هندی مراسموکې دده دناست ځای پوښتنه راپورته کړم . ماله ده سره لکه د یوه ملګري په شان په ډاډه توګه خبرې وکړې. ومې ویل چې زه فکرکوم چې هغه دخپل پوزشن د درک په باره کې له ستونزې سره مخامخ دی ، زه یوځه نورهم پرجزیاتو ورګډشوم او ده ته مې په هندکې د ویسرای اوله هغه سره یوځای زموږ ددرباري غړو، دډهلي دربار اوپه ۱۸۷۵ او ۱۹۰۲ کالونوکې دهغو درباري مراسمو په اړه چې دانګلستان دپاچا اونورولپاره نیول شوی وو رڼا واچوله.خوداسې ښکاریده چې داهرڅه بې فایدې وو،ځکه هغه باید پرهغه ځای چې دویسرای لپاره په نښه شوی و له هغه سره یوځای ناست وای ، نه چې ترهغه په ټیټه کچه ، هغه په دې هوډهم نه وچې له ویسرای سره باید نژدې کینی ، خودایې ویل چې دی باید له هغه سره په یولین کې ناست وي .

هغه په رښتینې توګه پرټولو شیانو پوهیده او د ویسرای اوچت اومهم دریځ هم ورمعلوم و .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ماهرڅه په خپلواوړو واخيستل ،ځکه ما داويل چې زه ډاريږم چې دی په دغه ترڅ کومه ناشوني پوښتنه رامنځ ته نه کړي. لکه داآوازه، نه چې دی په مراسموکې له برخې اخستنې څخه انکاروکړي؟ نه چې يوځل دخپل پرتم برعکس دخلکو منځ ته داخبره ورشي چې ده له دې امله انکاروکړ،چې هغه څه چې ده ته ويل کيدل هغه يې ونه منل ؟ !

زموږ خبرې په خوراښه فضا اوسمې روحيې سره وې،داسې ښکاريده چې اميرته زما نيت اوڅرګندونې په زړه پورې دي ،خوبيايې هم ځان پربله کاوه،هغه ويل چې زه بايدخپله هڅه وکړم ،خونه چې هغه له هرڅه تيرشي، په کټ مټ ډول موږ داروپايي مراسمو په برخه کې خبره رامنځ ته کړه، چې هغه وويل ، په دغه باره کې مه غږيږه،په دې چې ده يوازې آسيايي دود په رسميت پيژانده اوبس ، زه پوه شوم چې خبره نوره پرمخ نه ځي ځکه مې دتلو لاره ونيوله .

پاتې لري



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ